**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د امانت له منځه تلل (۲)

**(ژباړه)**

د صحيح البخاري په شرحه فتح الباري کې د امانت له منځه تلل تر باب لاندې د ابن حجر عسقلاني په کم بدلون سره راغلي: له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې واورېدل چې فرمايل يې:

**«إنما الناس كالإبل المائة لاتكاد تجد فيها راحلة»**

***ژباړه:*** *انسانان د سلو اوښانو په څېر دي، چې له منځه يې په ډېرې سختۍ يو راحله اوښ پيدا کولی شئ.*

د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره "**إنما الناس كالإبل المائة لاتكاد تجد فيها راحلة**" په دې معنا ده، چې تاسو په سلو اوښانو کې يو داسې اوښ نشئ موندلی، چې د سپرېدو وړ وي؛ ځکه د سورلۍ لپاره هغه اوښ مناسب دی چې په اسانۍ ارام شي. همدارنګه د سلو انسانانو په منځ کې يو داسې کس نه شئ موندلی، چې د روغبړ لپاره مناسب وي، له خپل ملګري سره مرسته او نېک چلند وکړي.

خطابي وايي: عربان سلو اوښانو ته د « إبل» لفظ کاروي او دوی وايي فلانی کس يو «إبل» لري، په دې معنی چې هغه سل اوښان لري او يا دا چې فلانی کس دوه «إبل» لري، په دې معنی چې هغه دوه سوه اوښان لري. له همدې امله په هغه روايت کې چې «مائة» پکې له الف لام پرته راغلي، په حقيقت کې د «إبل» تفسير کوي؛ ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره «كإبل» يعنې د سلو اوښانو په څېر دي. دا چې د «إبل» لفظ د سلو اوښانو پر ځای ډېر مشهور نه دی، نو د «المائة» کلمه د توضيح کولو او د ابهام د له منځه وړلو لپاره راغلې ده.

همدارنګه خطابي وايي: دا حديث په دوو حالتونو تعبيرېږي: لومړی دا چې ټول خلک د الله سبحانه وتعالی د احکامو پر وړاندې سره برابر دي او هېڅ د احترام ښتن انسان پر هغه کس غوره نه دی، چې احترام يې کم کېږي او نه هم هېڅ لوړپوړی انسان پر ټيټپوړي لومړيتوب لري؛ په حقيقت کې ټول د هغو سلو اوښانو په څېر دي، چې يو هم پکې راحله (د سورېدو وړ) نشته دی. راحله د فاعله په وزن د مفعوله په معنی دی، يعنې ټول سره برابر دي؛ مګر د سورېدو وړ نه دي. دويم دا چې ډېری خلک په زيان کې دي او ډېر کم يې د مهربانۍ وړ دي؛ يعنې دوی د راحله اوښ په څېر دي، چې په ډېرو اوښانو کې کم موندل کېږي، خو ډېری خلک نه پوهېږي.

يو انسان چې په هره اندازه الله تعالی وپېژني، په همغه کچه له هغه څخه ډېر وېرېږي او د خلکو په منځ کې يوازې هغه عالم له خدای څخه وېرېږي، چې پوه شي د خلکو لپاره د دعوتګر په توګه رالېږل شوی دی او د راحله اوښ په څېر دی. پر همدې اساس يو څوک د امت انحطاط ته متوجه کېږي، په اړه يې اندېښنمنېږي، ناڅاپه له خپل ځايه پاڅېږي او د امت د کمزورۍ پر دلايلو او ټکنالوژۍ ته د غرب پر لاسرسي بحثونه پيلوي. دا راحله کس چې موږ يې په اړه خبرې کوو، شيخ علامه تقي الدين النبهاني رحمه

الله دی او هغه راحله چې موږ يې په اړه غږېږو، هغه حزب التحرير دی چې همدغه رباني او زړه ســوانده عالم امت ته وړاندې کړ؛ وروســته يې موږ ته د شـريعت احکام د امت د ژغورنې لپاره را وښـودل او بيا له فکرې او طريقې سـره يو ځای په امت کې راڅرګند شو.

فکره له دې قضيې سره تړاو لري، چې د اسلام نظام بايد پر ټوله نړۍ حاکم شي او د خلافت د تاسيس او د خليفه د ټاکلو له لارې چې د الله د کتاب او د هغه د رسـول د سـنتو پر اسـاس له مسـلمانانو سـره بيعت وکړي، يو ځل بيا پر ما انز الله حکم وشي، ترڅو کفري نظامونه له منځه يوسـي او د تطبيق په ډګر کې يې اسـلامي نظام ځايناستی کړي. همدارنګه اسلامي خاورې په دارالاسلام بدلې کړي، ټولنه پر اسلامي ټولنه بدله کړي او د اسلام رسالت د دعوت او جهاد له لارې د نړۍ هرې برخې ته ورسوي.

طريقه هغې تګلارې ته وايي چې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم د هغې په مرسته دولت تاسيس کړ او دا حزب د هغې راحله په څېر دی چې د امت ټول غم او درد ته يې اوږده ورکړې ده، مګر دا چې خلافت تاسـيس شـي او په دې توګه له غرب څخه اوسـنۍ ارامي واخلي او مـانۍ يې ونړوي. غرب اوســمهال د دغه راحله په اړه اندېښــمن دی او په ټول توان يې پر وړاندې مبارزه کوي او غواړي چې دا نطفه په جنين کې خنثی کړي؛ مګر نه پوهېږي چې دا مولود له نورو سـره توپير لري او په چټکۍ به په ټول توان او ځواک سره راپورته شـي او ژر ده چې غرب کافر به خپلې دسيسې هېرې کړي او هغه کسان چې ظلم يې کړی، بايد پوه شي چې دوی به بېرته چېرې ورګرځي.

اې ربه، د نبوت پر منهج راشـده خلافت په چټکۍ سره زموږ په برخه کړې، ترڅو د مسلمانانو درد ارامه او له ظلم او تېري څخه يې خلاص کړي!  اې ربه دا ځمکه دې د خپل رحم او کرم په نور منوره کړه! آمين آمين!